# د نعلین مبارکو

## د نقش برکتونه

**20 August 2026**

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان



پۀ 20 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 6 ربیع الاول شریف، کال 1448ھ) د پاکستان پۀ
هفته وارو اِجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

قرآني بیان

پۀ نوم

# د نعلین مبارکو د نقش برکتونه

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د قرآنِ کریم پۀ رڼا کښې د نعلِ پاک فضیلتونه
- د اللّٰه پاک د رضا موندلو نُسخه
- د نقشِ نعلِ پاک برکتونه
- د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام نعلین د سکون ذریعه وي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر بن خطاب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: په ځليدونکې شپه او روښانه ورځ کښې په ما باندې درود زياتوئ، بے شکه ستاسو درود ما ته پيش کيږي، زۀ ستاسو د پاره دُعا غواړم او اِستغفار کووم- (1)

**وضاحت:** د ځليدونکې شپې نه مُراد د جُمعې شپه (يعني ننۍ شپه) او د روښانه ورځ نه مُراد جُمعةُ المُبارک ده- (2)

آنکھوں سے کیا دَرْیا جاری اور لب پہ دُعا پیاری پیاری
رو رو کے گزاری شب ساری، اے حامیِٔ اُمّت کیا کہنا...!!

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** څومره ښکلے فضيلت دے، خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ د ګنهګارانو د پاره دعاګانې هم کوي، اِستغفار هم کوي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا خو مَاشَآءَالله! شان هم دا دے چې بس لاس پورته کول وي چې تولې ورانې ودانې شي- مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

---

1... الدر المنضود، الفصل الرابع، صفحه:93-

2... الدر المنضود، الفصل الرابع، صفحه:93-

ليکلي دي:

| | |
|---|---|
| مقبول ہیں اَبرو کے اِشارے سے دُعائیں | کب تیر کمانِ دارِ نبوت کا خطا ہو[1] |

يعني چې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وروزو مبارکو بس صرف اِشاره وشي نو دعاګانې قبلېږي، دا هغه مقدس غشي دي کوم چې چرې هم نۀ خطا کيږي-

غور اوکړئ! چې د رسولانو تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ د پاره دعا کوي نو زمونږ ټول کارونه به ولې نۀ سمېږي، ځکه مونږ له پکار دي چې د درودِ پاک عادت جوړ کړو، پۀ خاص توګه د جُمعې پۀ شپه او د جُمعې پۀ ورځ بنۀ ډېر درود شريف لولو- الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| حکمِ حق ہے پڑھو! درود شریف | چھوڑو مت غافلو! درود شریف |
| پڑھ کے ایک بار، پاؤ دس رحمتیں | خُوب سَودا ہے لو! درود شریف |
| خُود خُدا بھیجتا ہے اُن پر درود | تم بھی بھیجا کرو! درود شریف |
| آخرت کے سفر کو اے بیدلؔ! | نَوشتہ تم لے چلو! درود شریف[2] |

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د بيان اورېدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے-[3]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اورېدو نه مخکښې څۀ ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ پۀ اَدب به کښېنم ❀ ښه پۀ توجُّه به بيان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې

---

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه:207۔

[2] ... نورِ ايمان، صفحه:39۔

[3] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ۔

به د یادولو، بڅپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ربیع الاول شریف برکتي میاشت خپل برکتونه تقسیموي، هر طرف ته خوشحالۍ دي، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک خو هډو ودرېږي نۀ، هډو کمېږي نۀ، البته! ربیع الاول د عاشقانو زړونه نور هم ژوندي کوي، ځائے پۀ ځائے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د میلادونو محفلونه کیږي، عاشقانِ رسول خپل کورونو د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذِکر باندې د ښائسته کولو پۀ کوشش کښې مصروف دي- الله پاک دې زمونږه د دې مقدسې، پاکې میاشتې ښه ډېر برکتونه نصیب کړي-

جب تلک یہ چاند تارے جھلملاتے جائیں گے | تب تلک جشنِ وِلادت ہم مناتے جائیں گے (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن به مونږه د خپل قِسمت ستورے ځلوو یعني نن به د نَعلَینِ شَرِیفین د ذِکرِ خیر د کولو او اورېدو سعادت حاصلوو- زۀ هم پۀ شروع کښې د لفظ نَعلَین معنیٰ عرض کووم، پۀ بیان کښې به یـې بیا بیا نۀ عرض کووم، ځکه د نَعلَین پۀ ځائے چې دلته پۀ پښتو کښې کوم لفظ اِستعمالیږي، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حق کښې هُغه لفظ وئیل اګر که جائز وي خو زړۀ یـې نۀ غواړي- نَعل د عربۍ ژبې لفظ دے، د دې معنیٰ وي: پېزار- نَعل د یوې ښپې پېزار- نَعلَین: د دواړو ښپو پېزار-

نو نن به مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک نَعلَین مبارک ذِکر کوو- سُبْحٰنَ الله! خومره ښکلے شان دے د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَعلَین

[1]...وسائلِ بخشش، صفحه:416۔

شريفين- اعلىٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم ليکلي دي:

تمہارے ذرّے کے پرْتو ستَار ہائے فَلَك | تمہارے نَعل کی ناقِص مثَل ضیائے فَلك(1)

وضاحت: د اعلىٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د عشق مقام ته وګورئ! د پرتَو معنىٰ وي: عکس- مونږ چې د ائينې مخې ته څۀ کوو نو د هغه څيز عکس پۀ ائينه کښې دننه پۀ نظر راځي، تاسو ته هم معلومه ده چې پۀ ائينه کښې چې دننه څۀ پۀ نظر راځي، هغه څۀ څيز نۀ دے، اصلي څيز زمونږ پۀ لاس کښې وي، پۀ خپل لاس کښې نيولے شوے څيز که چرې لرې کړے شي نو د ائينې عکس به هم لرې شي- اعلىٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: دا چې پۀ اسمان کښې کوم ستورې پۀ نظر راځي، د شپې ښه پرقيږي، تياره شپه ښه ښکلې روښانه کړي، د عشق پۀ لـهجه کښې وائي: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دا اسمان ګويا يوه ائينه ده او ستاسو د مبارکو ښپو سره چې کومې ذرې لګي او رژيږي، پۀ اسمان کښې چې د هغه ذرو کوم عکس جوړيږي، هغه د ستورو پۀ شکل کښې پۀ نظر راځي-

او خومره ښکلې خبره يې کړې ده:

تمہارے نعل کی ناقص مثل ضیائے فلک

وضاحت: **د ضيائے فَلَک** نه دلته مُراد: نمر دے- يعني يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو پۀ مثل کيدل خو ډېره لويه خبره ده، ستاسو د نَعلِ پاک هم کامِل او اَکمل مثل پۀ پراخه کائنات کښې هيڅ څيز نشي کيدے، آؤ! د نعلِ پاک يو بے کاره شان مثل دا پرقيدونکے نمر دے دا ټوله دُنيا روښانه کوونکے نمر خو ستاسو د نعلِ پاک مقابله هډو کولے نشي، آؤ! د دې د ښکلا څلا پۀ ليدلو، د دې د نُور پۀ ليدلو، د دې پۀ رڼا ليدلو لږ شان شک کيږي لکه چې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعلِ پاک څليږي-

---

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:73۔

# د قرآنِ کریم پهٔ رڼا کښې د نعلِ پاک فضیلتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د نَعلَینِ شَرِیفین د عزت او د عظمت اندازه ولګوئ چې الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې د خاورو د هغه ذرو قَسَم اِرشاد فرمائیلے دے، کومې چې پهٔ لاره د تللو پهٔ وخت د نَعلَینِ شَرِیفین سره لګېدلې وې- آؤ جي! اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| لَاۤ اُقۡسِمُ بِهٰذَا الۡبَلَدِ ۙ﴿۱﴾ وَ اَنۡتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الۡبَلَدِ ۙ﴿۲﴾ (پاره:30، سورهٔ بلَد:1-2) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زما دې پهٔ دې ښار قَسَم وي- چې تهٔ پهٔ دې ښار کښې تشریف فرما یې- |

یعني اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو پهٔ پاک ښار مې دې قَسَم وي--!!
دا قَسَم ولې یاد کړے شو؟ مکے مکرمې ته دا شان ولې مېلاؤ شو چې الله پاک د دې ښار قَسم ذِکر فرمائي؟ ❁ دلته کعبه ده ❁ دلته صفا مروه ده ❁ دلته مِنیٰ ده ❁ دلته حطیم دے ❁ دلته مقامِ اِبراهیم دے- آیا ځکه دا شرف مېلاؤ شو؟ نا--! نا--!! فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زمونږ دې پهٔ دې ښار باندې قَسَم وي--!! ځکه چې د دې ښار پهٔ کوڅو کښې تاسو ګرځئ، د دې ښار خاورې ستاسو نَعلَینِ شَرِیفین ښکل کړې دي-

| | |
|---|---|
| یاد فرما کر قسم حق نے زمینِ پاک کی | خاکِ نعلِ مصطفےٰ کو تاجِ شاہاں کر دیا(1) |

سُبۡحٰنَ الله! د کومو ذرو قسم چې رب کائنات ارشاد فرمائي،نو د هغه ذرو مثال پهٔ کائنات کښې چرته مېلاوېدے شي؟ځکه اعلي حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وائي:

تمہارے ذرّے کے پرتو ستارہائے فلک

## د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ذِکرِ خیر

یوه قیمتي خبره عرض کړم: دا چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائیلي دي:

---

[1]...قبالۂ بخشش، صفحہ:19

## تمہارے ذرّے کے پر توَ ستارہائے فلک

دا صرف څۀ د شاعرۍ خبره نۀ ده، دا حقیقت دے- آؤ جي! دا بالکل، رښتونے، پوخ، منلے شوے حقیقت دے- پۀ دې شعر کښې د ذرې نه مُراد ذره نۀ ده، د ستورې نه مُراد ستورے نۀ دے، د اسمان نه مُراد اسمان نۀ دے- زۀ وضاحت کووم:

صحابي تېر شوے دے: حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ - د ډېر لوئي شان والا صحابي دے- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: هر یو نبي عَلَیْہِ السَّلَام ته 7 ملګري عطا کولے شي خو ستاسو نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته 14 ملګري ورکړے شوي دي- عرض اوکړے شو: هغه څوک څوک دي؟ نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هُغه 14 واړو نومونه واخستل او پۀ هغې کښې یې وفرمائیل: پۀ هغوئي کښې یو عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم دے-

حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مفتي وو، یعني دلته چې څنګه مفتیان صاحبان وي، هم داسې پۀ صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم کښې ځینو صحابۀ کرامو عَلیهمُ الرِّضوَان د مفتي درجه لرله، د کومو نه چې به خلقو د خپلو مسئلو پوښتنې کولې او فتوې به یې لیکلې، پۀ دغه مفتیانو کښې یو ډېر لوئي مفتي حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم دے- (1)

مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! حنفیان یو- یعني د اِمامِ اعظم ابو حنیفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ تقلید کوو- پۀ اصل کښې اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ فتوو باندې عمل کوي، هم د هغوئي د فتوو تشریح اِمامِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوکړه، داسې وئیلے شي چې فقه حنفي پۀ اصل کښې د عبد الله بن مسعود فیضان دے -

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کوم اِنسان چې د قرآنِ داسې تِلاوت کول غواړي، لکه څنګه چې قرآن نازل شوے نو هغۀ له پکار دي چې داسې یې ولولي،

---

[1]...احکام فی اصول الاحکام، جز:5، جلد:3، صفحه:151۔

لكه ښنګه چي يـي عبد الله بن مسعود لولي۔[1]

په يو حديث شريف كښې فرمائي:

رَضِيتُ لِاُمَّتِیْ مَا رَضِیَ لَهَا ابْنُ اُمِّ عَبْدٍ

**ترجمه:** زۀ د خپل اُمت د پاره په هره هٰغه خبره باندې راضي يم، په كومه باندې چې اِبنِ اُمِّ عَبد (يعني عبد الله بن مسعود) راضي دے۔[2]

❁ د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پنډۍ مباركې لړې نرۍ وې، خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي د پنډو په باره كښې وفرمائيل:

وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ، لَهُوَ اَثْقَلُ فِی الْمِيزَانِ مِنْ اُحُدٍ

**ترجمه:** يعني په هٰغه ذات مې دې قَسَم وي، د چا په قبضه كښې چې زما ساه ده، دا پنډۍ به (د قيامت په ورځ) د عمل په ميزان د اُحُد د غر نه هم زياتې وزن دارې وي۔[3]

تاسو وګورئ چې حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته څومره اوچت شانونه عطا شوې، پوښتنه دا ده چې د هغوئي دا شانونه د چرته نه نصيب شول؟ ښنګه نصيب شول؟ ❁ نـمونځونه خو به نورو صحابۀ كرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم هم كول ❁ روژې خو به نورو صحابۀ كرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان هم نيولې ❁ ټول صحابۀ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم نيكان، پرهېزګاره، متقيان بلكې د تقوىٰ دارو اِمامان او پيشوا دي۔ نو د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا خاص شانونه ښنګه نصيب شول؟ جواب واورئ! د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو خاص سعادت نصيب شوے وو، يو خاص قِسمه خِدمت به هغوئي كولو، د هغوئي لقب دے: صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادَةِ يعني **نَعلَين شريف** او تـكيه مباركه اوچتوونكے صحابي۔[4]

---

[1]...ابن ماجه، المقدمه، فضل عبد الله بن مسعود، صفحه:36، حديث:138۔

[2]...مصنف ابن ابی شيبه، كتاب الفضائل، ماذكر فی عبد الله بن مسعود، جلد:7، صفحه:521، حديث:7۔

[3]... مسند ابو داود طيالسی، جلد:1، صفحه:278، حديث:353۔

[4]...مستدرک، كتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:376، حديث:5434۔

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله هم چرته تشریف وړلو نو حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تکیه مبارکه راخستله او ورسره ورسره به په خِدمت کښې حاضر اوسېدلو، څنګه چې به هم نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته د تشریف اېښودو اِراده فرمائيله نو حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به ور وړاندې کېدلو او د ښائسته ښائسته، ښکلو ښکلو، د عرش د سترګو د تور مقدسو، مبارکو ښپو نه به يې **نَعلَين شريف** ويستل، د ځان سره به يې محفوظ ساتل، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت مبارک کښې به يې تکيه مبارکه پيش کوله، بيا به چې کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راپاڅېدو او چرته به يې د تشریف وړلو اِراده فرمائيله نو هغوئي به ور وړاندې کېدلو او په ښپو مبارکو کښې به يې د **نَعلَين شريف** د اچولو سعادت حاصلولو او تکيه به يې راخستله۔

سُبْحٰنَ الله! دا هُغه خِدمت دے، د کوم په برکت چې حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته هُغه شانونه عطا شول، کوم چې بل چا ته نهٔ دي ميلاو شوي۔ علامه يُوسُف بن اِسماعِيل نبهاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي:

| | |
|---|---|
| اِنِّيْ خَدَمْتُ مِثَالَ نَعْلِ الْمُصْطَفٰے | لَاعَيْشَ فِي الدَّارَيْنِ تَحْتَ ظِلَالِهَا |
| سَعِدَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ بِخِدْمَةِ نَعْلِهٖ | وَاَنَا السَّعِيْدُ بِخِدْمَتِيْ لِمِثَالِهَا(1) |

**ترجمه:** زهٔ د نقشِ نعلِ پاک خادِم يم،دې دپاره چې زهٔ په دواړو جهانو کښې د نقشِ نعلِ پاک په سوري کښې يم - لکه څنګه چې حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د **نَعلَين شريف** په خِدمت کولو سره د سعادتونو معراج ته ورسېدو، (اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!) زهٔ به د نقشِ نعلِ پاک په خِدمت سره سعادت بياموم۔

[1]...سعادة الدارين، صفحه:454۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** اوس وګورئ د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ شعر ته:

تمہارے ذرّے کے پرتو ستارہائے فلک

يعني اے خوږه آقا، محبوبِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو د دَر د خادِمانو، ستاسو د عاشقانو دا شان دے چې ❀ که د عِلم او د عمل اسمان وي یا ❀ د عظمت او د ولایت اسمان ❀ د عزت او د تقویٰ اسمان وي یا ❀ د اِمامت او د پیشوایۍ اسمان، ستاسو د در خادِمان، ستاسو رښتوني عاشقان په هر اسمان باندې د ستورو په شان ځلېدونکي په نظر راځي۔

## د نعلین شریف ګنډلو والا

حضرت اُبو سعید خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: یو ځل د نُور محفل جوړ شوے وو، رسولِ ذِیشان، مکي مدني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ترمینځه تشریف فرما وو او خبره د راتلونکو وختونو شروع شوه۔

دا هم ډېره د کمال خبره ده، بعضې وخت شیطان د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِلم په باره کښې په زړونو کښې وسوسې اچوي، تاسو حدیثونه ولولئ! پته به درته ولیږي چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په محفلونو کښې به ډېر ځل د مستقبل ذِکر کېدلو او نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د راتلونکو وختونو حالات داسې بیانول، لکه چې په خپلو سترګو یې وینې۔

خیر! د نُور محفل جوړ شوے وو، د راتلونکي وختونو خبره شروع شوه، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: لکه څنګه چې قرآنِ کریم د نازلېدو په حواله سره (یعني په خلقو د دې د منلو د پاره دا چې قرآن واقعي د الله پاک کلام دے) ما ته جنګونه کول وو، ډېر کوشش او محنت کول وو، هم داسې به یو وخت راشي، یو کَس به د قرآنِ کریم د تفسیر او تشریح او د دې د صحیح معنو په حواله به جنګونه کوي۔

پۀ دې محفل کښې حضرت ابو بکر صِديق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر وو، هغوئي ودرېدو او عرض يې اوکړو: اَنَا هُوَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه؟ يعني يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا هُغه ګَس زۀ يم؟ وه يې فرمائيل: نا- حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ودرېدو او عرض يې اوکړو: آيا هُغه ګس به زۀ يم؟ وه يې فرمائيل: نا، تۀ هم نۀ يې- بلکې

وَلٰکِنْ خَاصِفُ النَّعْلِ

دا هُغه ګس دے کوم چې دا وخت زما نَعلَين شريف ګنډي-

حضرت ابو سعيد خدري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي:چې نبي پاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت علي المُرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته خپل نَعلَين شريف د ګنډلو دپارهورکړي وو،او هُغه وخت هغوي هغه ګنډل-(1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د چا شان چې ډېر اوچت دے ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې شيرِ خُدا دے ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې د عِلم د ښار دروازه ده ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې د ولايت بادشاه دے ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې د خيبر فاتح هم دے ❁ شيرِ مَرحَب شِکن هم دے ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم چې د اِيمان د محبت نخښه ده ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کوم ته چې کتل عبادت دے ❁ هُغه علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څوک چې پخپله جنتي دے، د چا شهزادګان چې د جنتيانو ځوانانو سرداران دي، هُغه مولائے کائنات، علي المُرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَعلين شريف پۀ خِدمت کوونکو کښې دے-

تاسو اندازه ولګوئ چې د نَعلين شريف د ګنډلو د خِدمت کوونکو داسې شان دے نو پۀ غارِ ثور کښې د سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خِدمت د پاره د سر بازي لګولو والا صديقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د شان به څۀ حالت وي---؟

---

[1]...ابن حبان، کتاب اخباره عن مناقب الصحابة،ذکر قتال علی...الخ، صفحه:1853، حديث:6937ـ

بیاں ہو کس زباں سے مرتبہ صِدّیقِ اکبر کا
ہے یارِ غار محبوبِ خدا صِدّیقِ اکبر کا

خدا اکرام فرماتا ہے اَتْقٰی کہہ کے قرآں میں
کریں پھر کیوں نہ اِکرام اَتْقِیَا صِدّیقِ اکبر کا

گدا صِدّیقِ اکبر کا خدا سے فَضْل پاتا ہے
خدا کے فَضْل سے میں ہوں گدا صِدّیقِ اَکْبر کا[1]

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مولیٰ! دۀ ته خوشحالي نصيب کړې

علامه ابو سعيد نيشاپوري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکلي دي: روايت دے چې د انصارو سره تعلق لرونکے يو وړوکے ماشوم وو، ظاهره ده چې هغه هم صحابي وو، د هغوئي د عشق انداز ته وګورئ چې څنګه وو: عمر يې اګر که کم وو خو پۀ عشق کښې د کمال درجې ته رسيدلے وو، د هغوئي عادت وو چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ لاره کښې به کيناستو، کله چې به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جومات ته تللو او پۀ هُغه لاره به تيرېدلو نو وروستو وروستو به وريسې تللو- رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله جومات ته ورسېدو او خپل نَعلَين شريف به يې وويستل نو هغوئي به سمدستي اوچت کړل، پۀ خپلو جامو باندې به يې صفا کړل او د ځان سره به يې وساتل، کله چې به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشريف وړلو نو پۀ خپلو لاسونو باندې به يې نَعلَين شريف پيش کول-

د څو ورځو پورې هم داسې کېدل، اخر د کرم درياب پۀ جوش کښې راغلو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترينه پوښتنه اوکړه: ځويه! تۀ څوک يې؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د انصارو نه يم؟ وه يې فرمائيل: د نَعلَين شريف د داسې خِدمت درته چا وئيلي دي؟ عرض يې اوکړو: ما ته چا هم نۀ دي وئيلي، بس هم داسې مې پۀ زړۀ کښې

[1]... ذوقِ نعت، صفحه:76-77 ملتقطًا-

محبت رابېدار شو چې په داسې خدمت کولو تاسو خوشحاله کړم، لهذا تاسو ته د خوشحالۍ رسولو سعادت حاصلوم - دا يې چې واورېدل نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا د پاره لاسونه پورته کړل او دُعا يې اوکړه: اے الله پاکه! دې ماشوم زما د خوشحالولو کوشش اوکړو، اے الله پاکه! دۀ ته د دُنيا او اخرت خوشحالۍ ورعطا کړې- (1)

جو سر پہ رکھنے کو مل جائے نعلِ پاکِ حضور | تو پھر کہیں گے کہ ہاں تاجدار ہم بھی ہیں (2)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نَعلَين شريف هم څومره ځانګړے شان دے، څوک چې د يو څو ورځو د پاره هم د دې د خِدمت سعادت حاصل کړي نو د دواړو جهانو خوشحالۍ حاصلې کړي-

## د الله پاک د رضا موندلو نُسخه

حضرت اَنس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم سره تشريف فرما وو، کله چې محفل شريف ختم شو يعني نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاخېدو اِراده وفرمائيله نو يو ووړکے صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سمدستي پاخېدو او ور وړاندې شو، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نَعلَين شريف يې راواخستل او په خدمت کښې يې حاضر کړل! د کرم درياب په جوش کښې راغلو، وه يې فرمائيل: تا د الله پاک رضا وغوښتله، الله پاک ستا نه راضي شو-

راوي وائي: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا په برکت هغه صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډېر د سکون ژوند تېر کړو، اخر يې د شهادت مرتبه حاصله کړه او د الله پاک دربار ته حاضر شو- (3)

---

[1]...شرف المصطفى، جلد:4، صفحه:536-

[2]...ذوقِ نعت، صفحه:188-

[3]...مسند بزار، جلد:13، صفحه:314، حديث:6912-

وہ بھی تھے جنہوں نے خدمت کی اُس نعل پاک مُحَمَّد کی

اُن روشن قسمت والوں کا یہ تاج سعادت کیا کہنا

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د **خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د نَعلَين** شان دے، څوک چې د لږ ساعت د پاره هم د دې خِدمت اوكړي، د دوارو جهانو خېرونه حاصلوي-

## انبيائے كرام عَلَيْهِمُ السَّلَام او د نعلِ پاک ادب

دا خو ما د صحابهٔ كرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم يو څو واقعې عرض كړې، اوس د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تولو نه د افضل اُمتيانو يعني د اوچت شان والا انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام اِرشادات واورئ!

✿ د الله پاک نبي حضرت يحيیٰ عَلَيْهِ السَّلَام كوم چې د ډېر اوچت شان والا نبي دے، يو ځل هغوئي خلق راجمع كړل او د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته د تشريف راوړلو پهٔ باره كښې يـې بيان اوكړو، د هغوئي الفاظ مبارک نن هم پهٔ **اِنجيلِ مَتیٰ** كښې موجود دي، د كومې ترجمه چې پهٔ انګلش كښې څهٔ داسې شوې ده، هغوئي وفرمائيل:

***He That Cometh after me is mightier then I***

يعني اے خلقو! واورئ---!! هُغه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم چې به زما نه پس تشريف راوړي، هغه زما نه هم د ډېر طاقت والا دے-

***Whose shoes I am not worthy to bear***

يعني هغه د داسې شان والا دے چې زهٔ د هغوئي د **نَعلَين شريف** اوچتولو لائق هم نهٔ يم-

**ضروري وضاحت:** ياد ساتئ!چې انجيل شريف اسماني كتاب دے،پهٔ دې باندې ايمان راوړل ضروري دي،البته!اوس چې د انجيل پهٔ نوم باندې كوم بائبل ميلاويږي،دا اصل

اسماني كتاب نهٔ دے،پهٔ دې كښې خلقو ډير رد و بدل كړے دے،د خدائے او رسول دښمنانو پهٔ دې كښې د خوږ اقا د صفتونو د ختمولو ډير كوششونه كړي دې خو

مٹ گئے، مٹتے ہیں، مِٹ جائیں گے اعدا تیرے
نہ مٹا ہے، نہ مٹے گا کبھی چرچا تیرا(1)

❁ دغه شان د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ باره كښې روايت دے، يو ځل د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام نه د رسولانو د تاجدار، مكي مدني سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان او د عظمت پهٔ باره كښې پوښتنه اوكړے شوه نو هغوئي وفرمائيل:

اِنَّهٗ نَبِيُّ آخِرِ الزَّمَانِ، وَاِنِّي لَاَرْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ اَهْلًا لِاَنْ اَحُلَّ شِرَاكَ نَعْلِهٖ

**ترجمه:** هغه اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے، زهٔ اُميد لرم چې زما د هغوئي د **نَعلَين شريف** د تسمي پرانستو شرف نصيب شي-

الله! الله--!! دا د اوچتو شانونو والا انبيائے كرام عَلَيْهِمُ السَّلَام دي ❁ د حضرت يحيٰ عَلَيْهِ السَّلَام شان پهٔ قرآنِ كريم كښې بيان شوي ❁ حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام بيمارانو له شِفا وركوونكے، د ړندو بينا كوونكے، پهٔ بركې لاس راښكونكے او ټيک كوونكے، د خاورو نه پهٔ جوړو كړے شوو مرغو پوک وهوونكے او ژوندي كوونكے، مړي ژوندي كوونكے، د داسې اوچت شان والا نبي دے خو زمونږ د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان او عظمت پهٔ كومو الفاظو سره بيانوي- بيا مونږ ولې نهٔ وايو:

خَلق سے اولیا، اولیا سے رُسُل
اور رسولوں سے اعلیٰ ہمارا نبی
مُلکِ کونین میں انبیا تاجدار
تاجداروں کا آقا ہمارا نبی
سب سے اَولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی
سب سے بالا و اعلیٰ ہمارا نبی (2)

---

[1]…حدائقِ بخشش، صفحه:29-

[2]…حدائقِ بخشش، صفحه:138-139 ملتقطاً-

# د نقشِ نعلِ پاک برکتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ نبي، ښه نبي، رښتوني نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نَعلَین شریفین څومره لوئي شان دے، د هغوئي د نعل شریف نقش مبارک کوم چې عام میلاؤېږي، د دې هم داسې داسې برکتونه دي چې بس څۀ به درته وایم-

شیخِ طریقت امیرِ اهلِسُنَّت مولانا اِلیاس عطار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ فرمائي: اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! ما د نعلِ پاک پۀ موضوع ډېر کار کړے دے- ما داسې قِسمه حکایتونه هم راجمع کړي دي کوم چې د صدو پخوانو بزرګانو پۀ خپلو کتابونو کښې لیکلي دي مثلاً ✿ یوه وداني راپرېوتله د کومې پۀ یو دیوال چې نقشِ نعلِ پاک جوړ شوے وو نو هغه دیوال کوږ ودرېدو او غالباً هغې ته څۀ نقصان وه نۀ رسېدو او شاید باقي ټول دیوالونه راپرېوتي وو ✿ دغه شان 20 یا 25 کاله زړه خبره ده چې زۀ یو ځل پۀ هوائي جاز کښې چرته روان ووم نو یو عام ماډرن ګس زما سره ناست وو، ما هغۀ ته سلام اوکړو او تعلقات مې ورسره جوړ کړه د پاره د دې چې هغه پوهه کړم- ما هغۀ ته د دعوتِ اِسلامي په باره کښې ووئیل نو هغۀ ما ته د نعلِ پاک کارډ وښودو او وه یې وئیل: ستاسو سره هم دا وي او زما سره هم دا شته، بیا هغۀ خپله قیصه بیان کړه او وه یې وئیل: زۀ یو ځل چرته روان ووم نو پۀ لاره کښې اوبۀ راجمع شوې وې پۀ کومو کښې چې زما موټر بالکل ډوب شو د دې پورې چې پۀ اوبو کښې بالکل غائب شو، زما پۀ جیب کښې د نعلِ پاک کارډ وو د کوم پۀ برکت چې اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ! زما موټر بره راوختو او زۀ ترې بهر راوتلم- د هغه ګس پۀ نعلِ پاک باندې دومره اِعتماد ځکه وو چې د نعلِ پاک زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره نسبت دے او خبره هم ټوله د نسبت ده- وګورئ چې کله انسان پولیس والا بچ کولے شي، وسله یې بچ کولے شي، نو د نعلِ پاک نقش د الله پاک پۀ عطا سره ولې نشي بچ کولے؟ یاد ساتئ چې پۀ اصل کښې بچ کوونکے ذات د الله پاک دے باقي ټولې ذریعې وي لکه څنګه چې ډاکټر هم عِلاج کوي

او د دوايي پۀ ذريعه بچ كول كوي دغه شان دُنيا عالَم اسباب ده- پۀ روايتونو كښې دا هم دي چې پۀ هر كَس باندې بچ كوونكې **مُحَافِظِين** فرښتے مقررې وي كومې چې سترګې او ټول وجود بچ كوي او هغه شپه ورځ بدليږي را بدليږي- ډير ځل داسې كيږي چې اِنسان پۀ غورځيدو غورځيدو كښې بچ شي يا تيز رفتار ګاډے راځي او يو دم داسې څۀ كرشمه ظاهره شي د كومې پۀ وجه چې اِنسان د هُغه ځائے نه لرې شي او داسې هغه بچ شي نو پۀ اصل كښې د هغۀ بچ كولو والا فرښتے وي كومې چې د هغۀ حفاظت كوي او دا هر څۀ د الله پاک پۀ عطا سره كيږي- نقشِ نعلِ پاک هم د الله پاک پۀ عطا سره د حفاظت ذريعه جوړيږي ځكه پۀ دې كښې د وسوسو راتللو څۀ ضرورت نشته- **(1)**

❀ حضرت علامه اِمام احمد تِلِمسَاني رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه فرمائي: ما ته د اِعتبار لائق يو كَس خپله واقعه بيان كړې ده چې يو ځل زۀ د ډير سخت مرض ښكار شوم د كوم پۀ وجه چې نزدې وه چې زۀ مړ شوے وے، الله پاک ما ته اِلـهام وفرمائيلو يعني زما پۀ زړۀ كښې يـې واچول چې **د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د نقشِ نَعلين** پۀ وسيلې سره دُعا اوكړه نو ما هم داسې اوكړل نو الله پاک ما ته شِفا راعطا كړله ❀ دغه شان يو بل حكايت نقل كوي چې ما ته بعضي قابل اِعتماد ملګرو ووئيل چې هغوئي ډير ځل د داسې ملكونو سفر اوكړو د كومو پۀ لارو باندې چې به هر وخت د غلو او ډاكوانو ويره وه او عام طور به د هغوئي نه يو مسافر هم بغير د لوټ مار نه نۀ بچ كيدو خو د هغوئي سره **نقشِ نَعلَينِ** وو ځكه ډير ځل هغوئي د غلو ډاكوانو سره مخ شول خو د هغې پۀ بركت الله پاک هغوئي د هغوئي د شر نه محفوظ وساتل- **(2)**

---

[1]... نقشِ نعلِ پاک کی برکات کی حکایات، صفحہ:1-2-

[2]... فتح المتعال فی مدح النعال ، الباب الرابع خواص و منافع ...الخ، صفحہ: 472 ـ

## د لا علاجه مرض نه يــې شِفا نصيب شوه

علامه تِلمِسَاني رَحْمَةُاللهِعَلَیْه ليکلي دي: شيخ عبد الخالق مالکي رَحْمَةُاللهِعَلَیْه يو بزرګ تېر شوے دے، فرمائي: يو ځل په ما باندې يوه دانه راوختله، پته نۀ لګي چې ثنګه دانه وه، هډو تيک کېدله نۀ، ډېرو ډاکټرانو ته مې وښودله خو څوک پرې هم پوهه نۀ شو چې دا څۀ دي؟ چې پوهېدل پرې نۀ نو عِلاج يــې هم نۀ کېدلو- زۀ ډېر په تکليف کښې ووم- يو ځل ناڅاپه ما ته د نقشِ نعلِ پاک برکتونه رایاد شول- نو ما نقشِ نعلِ پاک په خپل زخم باندې کېښودو او د الله پاک په دربار کښې مې دُعا اوکړه: اے الله پاکه! هُغه خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! د چا نعلِ پاک چې دا نقش دے، د هغوئي په وسيله ما ته شِفا راعطا کړې- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نقشِ نعلِ پاک په برکت د هُغې لا عِلاجه دانې نه زما خلاصے نصيب شو-

## جاز بچ شو

علامه تِلمِسَاني رَحْمَةُاللهِعَلَیْه چا چې د نعلين شريف په فضيلتونو باندې کتاب ليکلے دے، هغوئي خپله واقعه ليکلې ده، فرمائي: د 1027 هجرۍ خبره ده، ما په سمندري جاز کښې سفر کولو، په لاره کښې په يو ځائے کښې په سمندر کښې ډېر طوفان وو، د سيلاب د تيزۍ چپې په وجه زمونږ د جاز ډېرې تختې هم ماتې شوې-بيا بس مرګ مخې ته په نظر راتلو، د سمندري سفر چې څومره تجربه کار خلق وو، ټولو د ژوند اُميد پرېښودو چې بس اوس مونږ د مرګ نه څوک نشي بچ کولے- فرمائي: هُغه وخت زما سره نقشِ نعلِ پاک موجود وو، ما هُغه نقش مبارک د جاز کپتان له ولېږلو او وه مې وئيل: دا د ځان سره کېږده او جاز چلوه!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د نقشِ پاک برکت فوراً ظاهر شو او زمونږه جاز په هُغه سيلابي چپو کښې په

حفاظت سره تېر شو- (1)

ہو دفعِ بلا، مرضوں کو شفاء اور فتح و نصرت برؔ اَعدَا
یہ اُس کا اثر، یہ فیض اُس کا یہ اُس کی برکت کیا کہنا
سینے سے لگا، آنکھوں میں بسا، سر پر اسے رکھ کر مانگ دُعا
ہاں! اُس کے توسّل سے بُرہاںؔ، کھل جائے گی قسمت کیا کہنا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د نقشِ نعلِ پاک نور هم ډېر برکتونه دي کوم چې علمائے کرامو په خپلو کتابونو کښې ليکلي دي- مونږ له هم پکار دي چې نقشِ نعل پاک د ځان سره ساتو ❀ په عمامه شريف کښې يې کېږدئ ❀ په ټوپۍ کښې دننه يې وګندئ ❀ که نۀ وي نو په جيب کښې يې په ادب سره کېږدئ! په کور کښې يې ولګوئ! ❀ په ديوالونو باندې يې ولګوئ! ❀ بلکې مشوره ده چې د کور هر يو کس له بېل بېل نقشِ پاک ورکړئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیْم! د افتونو او بلاګانو نه به په حفاظت کښې وي-

## د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام نعلين د سکون ذريعه وي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! الله پاک په قرآنِ مجيد کښې، د دوېمې سيپارې په اخره کښې د تابُوتِ سکينه ذِکر فرمائيلے دے، داسې وشول چې حضرت طالوت رَحۡمَۃُ اللّٰهِ عَلَيۡه د بني اِسرائيلو بادشاه مقرر کړے شو، بني اِسرائيلو د دې فيصلې مخالفت اوکړو چې طالوت خو غريب دے، دے بادشاه څنګه جوړېدے شي؟ په دې باندې د هغه وخت نبي حضرت شمويل عَلَيۡهِ السَّلَام د الله پاک په حُکم وفرمائيل:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اٰيَةَ مُلۡكِهٖۤ اَنۡ يَّاۡتِيَكُمُ التَّابُوۡتُ فِيۡهِ سَكِيۡنَةٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ (پاره:2، سورۀ بَقَره:248) | [مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: د دۀ د بادشاهۍ نخښه دا ده چې تاسو له به هغه تابوت راشي په کوم کښې چې |

[1]… فتح المتعال فی مدح النعال ، الباب الرابع خواص و منافع ...الخ، صفحه: 472 ـ

| | |
|---|---|
| | ستاسو د رب له طرفه د زړونو سکون دے- |

دلته پهٔ تابوت کښې دننه موجودو څیزونو ته اللّٰه پاک سَکِینَه وفرمائیله، پهٔ دې صندوق کښې څهٔ وو؟ دا پوښتنه هم د قرآنِ مجید نه اوکړئ، اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَبَقِیَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ (پاره:2، سورهٔ بَقَره:248) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د مُعَزَّز موسیٰ او د مُعَزَّز هارون د پرېښودو څیزونو بقیه ده- |

پهٔ تفسیر صراط الـجنان کښې دي: پهٔ دې تابوت کښې د تورات شریف د تختو ټوټې، د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام جامې، د هغوئې **نَعلَینِ شَرِیفَین** (یعنې پېزار مبارک)، د حضرت هارون عَلَیْهِ السَّلَام عمامه[پټکے] او د هغوئې اَمسا مبارکه وه- بني اِسرائیل به چې د څهٔ مشکل سره مخ کېدل نو دا تابوت به یــې مخې ته اېښودو او دُعا به یــې کوله، د هغوئې دُعا به قبلېدله، د دغه تابوت پهٔ برکت به د هغوئې پهٔ جنګونو کښې فتح نصیب کېدله- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! اندازه ولګوئ چې د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د **نَعلَینِ شَرِیفَین** دا برکت دے چې قرآنِ کریم هغه د زړهٔ د سکون ذریعه ګرځوي، د دې پهٔ برکت مشکلات لرې کېږي، دعاګانې قبلېږي او پهٔ جنګونو کښې فتح نصیب کېږي نو کوم چې د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام هم آقا دے یعنې زمونږه نبي، خوږ نبي، رښتونے نبي، ښه نبي، اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ، د هغوئې **نَعلَینِ شَرِیفَین** او د هغې نقشِ پاک به ولې د زړهٔ د سکون او د ارام او د مشکلاتو د حل کېدو او د دعاګانو د قبلېدو ذریعه نهٔ وي-

تجربه ګواه ده چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د نقشِ نعلِ پاک برکتونه نصیب کېږي- ځکه د نقشِ پاک د ځان سره د ساتلو عادت ضرور جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! که اللّٰه پاک وغوښتل نو د بیماریانو

---

1…تفسیر صراط الجنان، پاره:2، سورهٔ بقره، تحت الآیة:248، جلد:1، صفحه: 373، بتغیر-

نه به شفا میلاویږي،د تنګدستۍ نه به نجات میلاویږي، د افتونو نه به خلاصے میلاویږي او که الله پاک وغوښتل نو د خوږ اقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدار به هم عطا کیږي. الله پاک دې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 دِیني کارونو کښې یو دِیني کار: نېک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د صحیح اِسلامي عقیدو د زده کولو، د عمل د جذبې د موندلو، د نېکو د کولو او د ګناهونو نه د بچ کېدو د ذِهن حاصلولو د پاره د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راشئ! په 12 دیني کارونو کښې هم ښه ډېره برخه واخلئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د دنیا او اخرت بے شمېره خېرونه به درنصیب شي- په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: نېک اعمال هم دے-

❁ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلۡتَنۡظُرۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٍ ۚ (پ: 28، سورۂ حشر:18) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هر ګس دې وګوري چې هغه د سبا د پاره مخکښې څۀ لېږلي دي- |

❁ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: عقل مند هغه دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل اوکړي [(1)] ❁ د ځان د اصلاح او د شیطان نه د بچ کېدو بهترینه طریقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو-

❁ په اوسني وخت کښې امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طریقه ښودلې ده: رساله نېک اعمال (مبلغ له پکار دي

[1]... ترمذی، ابواب صفة القیامة، صفحه:583، حدیث:2459 ـ

چې نېک اعمال رساله د ځان سره اوساتي او بنائي دې هم) ❀ د زيات عمر اسلامي ورونړو د پاره پۀ نېک اعمال رساله کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ❀ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ❀ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانې ډکول دي ❀ د ښه اسلامي ژوند تېرولو بهترينه نسخه ده ❀ د دې پۀ ذريعه پته نۀ لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده۔

❀ تاسو هم دا رساله واخلئ! هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډېره فائده به در ورسي ❀ اخلاق به مو ښۀ کيږي ❀ کردار به مو ښه شي ❀ عادتونه به ښه شي ❀ پۀ نېکو باندې به استقامت نصيب شي ❀ د ګناهونو نه به نفرت پيداشي ❀ زړۀ به روښانه شي ❀ د الله محبت به نصيب شي ❀ عشق رسول به زيات شي ❀ روحانيت به ميلاؤ شي او ❀ د اخرت فکر به نصيب شي۔

راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## روزانه د جائزې اخستو اِنعام

يو اِسلامي ورور وائي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما د نېک اعمال سره محبت دے او د دې پۀ ذريعه روزانه خپله جائزه اخستل زما معمول دے۔ يو ځل زۀ د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د بلوچستان صوبې (پاکستان) پۀ سفر ووم۔ هغه وخت پۀ ما ګنهګار باندې کرم وشو۔ داسې وشول چې زۀ کله د شپې اوده شوم نو بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړلو، اوس لا پۀ جلوو کښې ورک ووم چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائيلو څوک چې پۀ مَدَني قافله کښې روزانه د نېک اعمال رسالې نه خپله جائزه اخلي زۀ بۀ هغوئ د ځان سره جنَّت ته بوځم۔

شکریہ کیوں کرادا ہو آپ کا یا مصطفیٰ | کہ پڑوسی خُلد میں اپنا بنایا شکریہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نمونځونو د وختونو (Prayer Times) د اېپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! دعوتِ اِسلامي د جديد ذريعو په ذريعه هم د قرآن او د سُنَّت په خدمت کښې مصروف دے، دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډېر ښکلے موبائل ايپلي کېشن د نمونځونو د وختونو **(Prayer Times)** په نوم جاري کړے دے ❁ د دې ايپلي کېشن په ذريعه په ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلومېدے شي ❁ د جمعې په وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ❁ د دې نه علاوه د قرآنِ پاک د عربی متن او د ترجمې او تفسير سره د لوستلو او اورېدو سهولت موجود دے ❁ اذکار (روحاني علاج) هم ورکړے شوي دي ❁ د کاؤنټر تسبيح په ذريعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ❁ د دې ايپلي کېشن په ذريعه تاسو ريډيو مَدَني چېنل اورېدے شئ ❁ د نمونځ اذکار هم د تجويد سره شامل کړے شوي دي ❁ د عيسوي او اِسلامي کلېنډر (**Calendar**) سهولت هم موجود دے۔ ❁ د دې نه علاوه تاسو د دې ايپلي کېشن ډېش بورډ (**Dashboard**) په 2 کلر تهيم (Two Color Theme) کښې هم استعمالولے شئ۔ هم نن دا ايپلي کېشن ډاؤن لوډ کړئ، د دې سهولتونو نه پخپله هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانونه

❁ خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ربيع الاول شريف د مدني مذاکرو لړی روانه ده اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم! د 13ربيع الاول پورې به اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د عالمي مدني

مرکز فیضانِ مدینه کراچۍ نه نېغ په نېغه دا مدني مذاکرې فرمائي، عاشقانِ رسول (کوم چې کولے شي هغوئي دې) عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه کراچۍ ته تشریف راوړي او په دې مَدَني مذاکرو کښې دې شامل شي، که غواړي نو په خپلو خپلو علاقو کښې دې د دې مدني مزاکرو د کتو انتظام اوکړي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې په دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت اوکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت هره هفته د یوې **دیني رسالې** لوستلو ترغیب ورکوي، په راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **اربعینِ عطار (قسط: 4)** اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس اېپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د اللّٰه پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شېئر کړي! ❁ مکـتبة الـمدینه د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سیرت او د ژوند د بهترینو واقعو او معجزو زبردست کتاب: **سیرتِ مصطفٰے** او **سیرت مصطفٰے جانِ رحمت** چاپ کړي دي- تاسو دا کتابونه **سیرت مصطفٰے** په **1180 روپۍ** او کتاب **سیرتِ مصطفٰے جانِ رحمت** په **450 روپۍ** د مکـتبة الـمدینه د هرې څانګې نه په بیعه حاصلولے شئ-

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ټیلي تهون ترغیب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ستاسو خپل دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي په دِیني او د خېر ښېګړې په خدمتونو کښې مصروف دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ په نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقریباً **24 زره 200** جامعات او مدارسُ الـمدینه د هلکانو او جینکو **(Boys & Girls)** (فل او شارټ ټائم) قائم دي، په کومو کښې چې تقریباً د **5 لاکهه 97 زرو نه زیات نارینه او زنانه طالبِ علمان** د حفظ او ناظرې، عالِم کورس

(درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات ***(Specialization)***، فرض علوم او نور کورسز کوي ❁ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئېندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره پۀ زرګونو مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د لوستونکو اِسلامي ورونړو او خوئېندو شمېره پۀ لکونو کښې ده ❁ اوسه پورې تقريباً 24 دار الافتاء اهلسنت جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شمېره د مياشتې اوسطاً 30 زره ده ❁ د الـمدينةُ العلميه ***(Islamic Research Center)*** پۀ ذريعه پۀ ديني لټرېچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پۀ 2209 کتابونو او رسالو باندې کار شوے دے.❁ د سوشل ميډيا پۀ پليټ فارمز باندې د فالورز مجموعي شمېره 7 کروړه27 لاکه شوي ده د ايف جي ار ايف د لاندې87زره452 د وينې بوتلې عطيه شوي دي،1 کروړ نه د زياتو کسانو امداد شوے دے، د هيلت کئير سنټر نه د 1لاک نه زياتو کسانو فائده اوچته کړې ده او تقريبا 35لاکه بوتې لګولے شوي دي.

د دې ټولو کارونو او د دعوتِ اِسلامي د ټولو دِيني او د خير ښېګړې کارونو جاري ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي پۀ اربونو روپو خرچې دي- د دې خرچو پوره کولو د پاره اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! پۀ 6 ستمبر کال 2026 کيږي: ټيلي تهون- خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پۀ هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښېګړې، پۀ ښو او د امدن زياتولو پۀ جائز او محفوظو کارونو کښې لګېدے شي د پاره د دې چې زياتې شوې خرچې پرې پوره کړے شي-

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم

اس پہ فدا ہو بچہ بچہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ميلاد پۀ اجتماع او جلوس کښې د شرکت کولو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د آقا د ميلاد شريف ورځ را روانه ده ،اَلْحَمْدُلِلّٰه!د دعوت

اسلامي د انتظام د لاندې د دولسمې پۀ شپه د ميلاد عظيم الشانه اجتماع کيږي چې پکښې نعت خواني هم کيږي،بيان هم کيږي او د آقا پتنګان ښۀ پۀ مينه محبت د درود شريف نذرانې هم پيش کوي ، او پۀ صلوٰۀ سلام وئيلو سره د صبح بهاران هر کلے کوي.تاسو هم پۀ دې اجتماع کښې او پۀ دولسم شريف باندې کيدونکې جلوس ميلاد کښې لازمي شرکت وکړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم!ښۀ د درود پاک لوستلو،نعتونو اوريدلو، د آقا د ذکر خير اوريدو او ښۀ د آمد مصطفي نعرو لګولو سعادت به درته حاصل شي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| آمنہ چمکی تیری قسمت | مرحبا!صدمرحبا! | گود میں آئی ربّ کی رحمت | مرحبا!صدمرحبا! |
| آئے تاجدارِ رسالت | مرحبا!صدمرحبا! | آئے جہاں میں جانِ رحمت | مرحبا!صدمرحبا! |
| صاحبِ عظمت وشان وشوکت | مرحبا!صدمرحبا! | سب سے بڑی اللہ کی نعمت | مرحبا!صدمرحبا! |

د ربيع الاول شريف پۀ موقع باندې پۀ زرګونو اسلامي ورونړا د قافلو مسافر جوړيږي ،تاسو هم د سنتو زده کولو،ښودلو،د نيکۍ دعوت عام کولو او پۀ ښه طريقه د آقاصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جشن ولادت نمانځلو دپاره پۀ قافلو کښې سفر وکړئ. الله پاک دې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- (1)

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

[1]... تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

## ښه اخلاق د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د اخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **دوه فرامین مبارک: (1):** پهٔ ایمان کښې زیات کامِل هغه دے د چا چې اخلاق ښه وي۔ [1] **(2):** د ښه اخلاقو نه بهتر مسلمان ته هیڅ خیز نهٔ دے ورکړے شوے۔ [2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** ښه اخلاق د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي۔ ❀ حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هر یو سره د ښو اخلاقو او محبت سلوک فرمائیلو ❀ نهٔ به یې څوک رټلو او نهٔ به یې ستغې سپورې وئیلې ❀ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم ته به د کتلو سره مُسکے کېدلو، د هغوئي سره، د هغوئي د بچو سره به یې خوش طبعي فرمائیله، ماشومان به یې پهٔ غېږه مبارکه کښې کښېنول ❀ د مریضانو تپوس به یې کولو ❀ پهٔ محفل کښې به چرې هم پهٔ غزېدلو ښپو نهٔ کېناستلو ❀ پهٔ سلام کښې به یې پهل [یعني وړومبے سلام به یې] کولو ❀ تول به یې پهٔ ښه نوم سره رابلل ❀ د نورو خبره به یې نهٔ کټ کوله۔

الله پاک دې مونږ ته هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اخلاقو اختیارولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| بنادو صبر ورضا کا پیکر | بنوں خوش اخلاق ایسا سرور |
| رہے سدا نرم ہی طبیعت | نبیِّ رحمت شفیعِ اُمّت |

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او وه یې لولئ! د سنتو زده کولو

---

[1]… ابو داود، کتاب السنه، باب دلیل علی زیادة الایمان، صفحه:737 حدیث: 4682۔

[2]… شعب الایمان، باب فی حُسْنِ خلق، جلد:6، صفحه:235، حدیث:7992۔

یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد